# Impact of Rokhani Tasawwaf on the Poetry of Dr. Pervez Mahjoor

# د ډاکټر پرویز مهجور په شاعرۍ د روښاني تصوف اثرات

**Muhammad Riaz**[*]
**Dr. Faqir Muhammad Faqir**[**]

**Abstract:**

Roshnite literature is the earliest known literature of the history of Pashto. So far much work has been carried out on roshnites mystic and literature. Many undiscovered aspects of that era have been brought into lime light. Roshnies literature is the study of rokhani mysticism and literature and those of his followers.Dr Pervez mahjoor have a high place in the critics and intellectuals of that literature. He is considered an authority on the rokhani mysticism and their literary works because he not only knows about the terms and terminology of their mysticism but Mahjoor himself is a perfect Sofi in word and deed. It gives him a very high and esteemed position in that respect.

**Key words:**Mysticism, Roshanites, Mystic Poetry of Mahjoor.

تصوف د نفس صفائۍ ته وئیلے کېږي او د تصوف دې لفظ ته د قرآن په اصطلاح کښې تزکیه نفس او د حدیث په اصطلاح کښې ورته احسان وئیلے شي. لغوي اعتبار سره د ټولو تعریفونو نه یوه خبره مشترکه ثابتېږي او هغه دا چې تصوف الله تعالیٰ سرهد داسې بې غرضه او بې لوثه دوستۍ او محبت نوم دے چې مسلمان نۀ یواځې دنیاوي بلکې د اخرت طمعې نه هم بې نیازه کوي. د تصوف په لار کښې د سالک د زړۀ تعلق په هر حال او هر وخت کښې الله تعالیٰ سره وي. د تصوف لاره اختیارولو لوې مقصد دا دے چې د نفسد باطني صفائۍ په ذریعه د یو مسلمان په ژوند کښې ټول عملونه د اخلاص په نور کښې داسې منور شي چې د الله تعالیٰ په نزد د قبولیت درجې ته ورسي. یعني مطلب دا چې مجازي اسلام په حقیقي اسلام کښې د بدلون نوم روحانیت او تصوف دے. د دې وجې دین اسلام کښې شریعت د یو مسلمان ظاهري او طریقت ئې باطني ښکلا ده.

د شریعت تعلق هغه احکامو او امورو سره تړلےدے کومو سره چې د مسلمان د ظاهري

---

[*] Muhammad Riaz, PhD Scholar Bacha Khan Study Centre Bacha Khan University Charsada
[**] Dr. Faqir Muhammad Faqir, Lecturer Bacha Khan Study Centre Bacha Khan University Charsada

ژوند غوره تشکیل کېږي. دغسې د طریقت تعلق هغه روحاني کېفیاتو او لذتونو سره دے چې د یو مومن بنده په زړهٔ ښهٔ او فائده ورکونکي اثر کوي. د حضرت محمدصلي الله علیه وآله وسلم تابعداري چې کله د مسلمان ظاهر پورې محدود وي نو دا شریعت دے او دغه شان کله چې د یو مومن بنده باطني حالت زمونږ د خوږ پېغمبر حضرت محمدصلي الله علیه واله وسلم نورانیت نه هم بیا منور شي نو دغه طریقت دے. ګویا چې شریعت په مثال د ګل دے او طریقت د دغه ګل خوشبو ده، شریعت واضحه بیان دے او طریقت ئې خفي مشاهده ده، شریعت ښائسته صورت دے او طریقت ئې نوراني حقیقت دے، شریعت یو ښکلې وجود دے او طریقت د دغې وجود روح دے. الله تعالیٰ قرآن مجید کښې فرمائي.

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ [1]

ترجمه :- وښایه مونږه ته لاره سمه د هغه کسانو لاره چې مهرباني کړے ده تا په هغوي باندې. د تصوف یعني د بېعت اصل مقصد دا دے چې د اولیاؤ کرامو باطني فیوضات او انوارات بل ته منتقل شي. د دې وجې مومن بنده له د نفسیاتي او شېطاني شر فساد نه د بچ کېدو دپاره د یو کامل پیر نه بېعت کول ډېر ضروري وي. ځکه چې بېعت کولو سره انسان کښې دننه هغه خاصیتونه پېدا کېږي کوم چې د الله تعالیٰ زیات خوښ وي چې د هغې په ظاهره انسان څهٔ تصور هم نهٔ شي کولے. بېعت الله تعالیٰ ته نزدېکت دپاره یوه بهترینه او غوره لاره ده. حضرت محمد صلي الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو چې د الله تعالیٰ ارشاد دے: زما بندیانو کښې زما اولیاء هغه دي چې د هغوي یاد زما ذکر سره وي او زما یاد د هغوي ذکر کولو سره وي.[2] د تصوف په اړه د ډاکټر پروېز مهجور په شاعرۍ کښې د روښاني تصوفي افکارو ډېرې غوره نمونې دي ځکه چې هغوي د دې مېدان عملي لاره په حقیقت کښې خپله کړې وه. د هغوي په شاعرۍ د روښاني تصوف ګڼ شمېر اثرات دي او هغه داسې چې د هغوي د پیر روښان او روښاني مکتب سرهېو مضبوط تړون وهٔ او د دې تړون واضحه ثبوت دا دے چې د هغوي د څېړنې زیاته او مستنده برخه د روښاني ادب تاریخ او څېړنه ده. د دوي په شاعرۍ کښې د بایزید انصاري د تصوف تشریح او د هغوي د اتو مقامونو درک او څرک په نظر راځي. ځکه چې د بېعت معنٰي څهٔ مقصد یا منزل حاصلولو دپاره یو دین داراو تقوٰی دار شخصیت خپل راهنما تسلیمول دي. د دې نه علاوه د بېعت یو مطلب هغه معاهده هم ده چې د هغې لاندې بېعت کونکے سړے خپله مرضي او

خپل ټول اختيارات يو کامل شخصيت ته حواله کړي.

صوفي چې کله خپل نفس فنا کړي او د زړهٔ صفائي هغهٔ ته حاصله شي نو هغه په صالحينو کښې شمار شي. ډاکټر مهجور هم په خپله تصوفي شاعرۍ کښې د چا د بد رد وئيلو پرواه نهٔ کوي او بغير د ريا کارۍ او شهرت غوښتلو خالص نيت سره صرف او صرف د الله تعالیٰ لوئي بيانوي . د خپل کلام په ذريعه اولس ته هر وخت د خپل رب د فرمان بردارۍ او اطاعت گزارۍ تلقين کوي. د دوي په شاعرۍ کښې د روښاني تصوفي افکارو نه معلومېږي چې کوم خلق الله تعالیٰ سره د زيات محبت د غلبې په وجه مجاهدې او عبادتونه کوي نو د الله تعالیٰ رضا او معرفت به حاصل کړي. الله تعالیٰ هغه عظيم او کريم ذات دے چې دغه خلقو دپاره د مهربانۍ، رحمتاو د قربب (نزدېکت) لارې ببرته کوي. دوي په خپله تصوفي شاعرۍ کښې د حق ذات د طلب کونکو امېدونو پوره کولو دپاره خپله هڅه کوي.

"طریقت کا تعلق ان روحانی لذات اور معنوی کیفیات سے ہے جو بندہ مومن کے دل پر اثر پذیر ہوتی ہیں۔ جب اتباع رسول ﷺ صرف ظاہر تک محدود رہے تو یہ شریعت کہلاتی ہے مگر جب بندہ مومن کا باطن نورانیت مصطفیٰ ﷺ سے بھی منور ہو جائے تو یہ طریقت کہلاتی ہے"۔ [3]

ترجمه: د طريقت تعلق هغه روحاني لذتونو او معنوي کېفياتو سره دے چې د مومن بنده په زړهٔ کښې اثر کونکے وي. کله چې د رسول الله صلي الله عليه وآله وسلم تابعداري ظاهر پورې محدود شي نو دا شريعت دے خو چې کله د مومن بنده باطن د حضور صلي الله عليه وآله وسلم نورانيت نه هم منور شي نو دا بيا طريقت دے.

ډاکټر پروېز مهجور په خپله شاعرۍ کښې د روښاني تصوف هغه اثرات رابرسېره کړي دي د کومو په ذريعه چې د انساني نفس تزکيه کېږي . ځکه چې انسان کښې د حيواني خصلتونو په وجه قتل، زنا، شراب او داسې نور گڼ شمېر گناهونه موجود وي خو چې کله دنفس تزکيه وشي نو د هغوي ټول حيواني خصلتونه بيا په روحاني خصلتونو کښې بدلون مومي او انسان کښې د محبت زياتې قوي جذبې او د برداشت قوت پېدا کوي او مطلب ئې داسې وي گويا چې د تصوف ابتداء هم د امن او سکون نه کېږي. د دوي په شاعرۍ کښې هم د روښاني تصوف هغه کېفيات موجود دي چې په نتيجه کښې ئې دې سفر سره زړهٔ د هر قسمه گناهونو نه پاک شي او انسان په راتلونکي ژوند کښې د دنيا ټولو غمونو، سوچونو

او فکرونو نه ازاد شي او زړهٔ ئې صرف د الله تعالیٰ په یاد کښې مشغول شي.

د تصوف اووهٔ اهم او مشهور مقامات دي او په دې کښې وړومبے مقام اراده، دوېم مقام توبه، درېم مقام مجاهده، څلورم مقام تقوٰی، پنځم مقام خلوت، شپږم مقام زهد او اوم مقام خاموشي ده. یعني تصوف درجه په درجه د حقیقي سفر کولو نوم دے. د سفر دې مرحلې ته سلوک او مسافر ته ئې سالک وئیلے شي. ډاکټر مهجور خپله شاعرۍ کښې د روښاني تصوف داسې ذکر کوي چې د هغې په ذریعه د باطن سفر ته زیاته وده ملاوېږي او انسان خپل باطن کښې د هر قسمه غېرو افکارو نه راوباسي او صرف یو الله تعالیٰ ته ئې متوجې کوي. او دا د تصوف هغه ژور اثرات دي چې انسان د اولس نه ځان له والې خوښوي او د قال نه ئې حال ته داخل کړي.

"شریعت د سلوک آغاز هم دے او انجام هم. طریقت او د دې ټول مقامونه په "شریعت" اساس یو مربوط عمل دے. دا د سالک د روحاني ارتقاء یو عکس په ګوته کوي. د دې ټولو مقامونو او روحاني ارتقاء مقصد د شریعت باطني حسن تر لاسه کول دي. د یو عام مسلمان او د اولیاؤ یا صوفیاؤ، صالحینو، صدیقانو تر مېنځه فرق هم د روحانیت د ارتقاء دے".[4]

د ډاکټر مهجور په شاعرۍ کښې د روښاني تصوف اثرات رښتوني او برحق ښکاره شوي دي. ځکه د تصوف په لاره کښې چې صوفي د کومو خپلو انساني اوصافو نه رابهر شي او په رباني اوصافو کښې داخلېږي نو دوي دغه کېفیات په خپله شاعرۍ کښې ډېر په یو منفرد انداز کښې بیان کړي دي. او بیا چې کله سالک د رب په صفاتو کښې هم ځان رنګ شي او باطن ئې ورسره روښانه شي نو هغه وجداني حالت ئې د روښاني تصوف په رڼا کښې د خپلې شاعرۍ په ذریعه واضحه کړے دے. صوفي ته د زړهٔ صفائي او د قرب مقام د الله تعالیٰ ذکر سره حاصلېږي او هغه د روښاني تصوف خاص فلسفه ده. د دوي په شاعرۍ کښې د روښاني تصوف روحاني اثراتو سره د انسان په زړهٔ کښې د انواراتو او تجلیاتو څهٔ عجیبه کېفیات محسوسېږي. څنګه چې د طریقت خاوندان په ظاهره فرش (زمکه) باندې موجود وي خو د الهي انواراتو او تجلیاتو په وجه ئې باطني حالت په عرش وي.

تصوف کښې هره لمحه د سالک حال او مقام حقیقت ښکاره کوي او هغه په یو ځاے قرار نهٔ مومي بلکې الهي قرب، الهي محبت، الهي عشق، الهي اطاعت او الهي معرفت

کښې ئې هره لمحه حال او مقام بدلېږي. سالک چې کله د تصوف مقاماتو نه تېر شي نو هغه ابغ په نېغه الٰهي فیوضات محسوسوي او د رب عطاء، کشف او الهامات ئې زړۀ کښې خپل نورانیت ښکاره کوي. او په نتیجه کښې بیا سالک حق وېنا کوي او زړۀ ئې د حق وېنا نه بې حده منور شي. ډاکټر مهجور هم د روښاني تصوف هغه عملي مرد مجاهد دے چې د شاعرۍ زیاته برخه ئې په دغه رنګ کښې رنګ ده.

"عشق الٰهی باندې د تصوف بنیاد اېښودے شوے دے او څنګه چې د ملک مصر تصور د دریائے نیل نه بغېر کېدے نۀ شي هم دغه شان د عشق نه بغېر د تصوف تصور هم نۀ شي کېدے. د تصوف تار عشق دے او بوټے ئې هم عشق دے ځکه خو د بېعت لاره اختیارولو سره د انسان دننه هغه د الله خوښ صفات او خاصیتونه راپېدا کېږي د کومو چې انسان تقاضا کوي". [5]

ډاکټر مهجور په خپله شاعرۍ کښې د روښاني تصوف هغه روحاني کمالات بیان کړي دي کوم چې د یو صوفید نفس په فنا کښې ښکاره کېږي او هغۀ ته بیا د زړۀ حقیقي صفائي حاصله شي او هغه په باطني توګه صالحینو کښې شمار شي. د دې وجې صوفي هر وخت د چا د بدوبدله نۀ ورکوي او د هغوي پرواه هم نۀ کوي او بغېر د شهرت غوښتلو او ریا کارۍ خالص نیت سره صرف د الله تعالٰی عبادت کوي. دوي هر وخت د خپل رب اطاعت او فرمان برداري کوي. دوي چرته هم نافرماني نۀ کوي او د اطاعت یو بهترینه نمونه وي. د حضور صلي الله علیه واله وسلم ارشاد مبارک دے.

اَنْ تَعْبُدَاللّٰهَ کَاَنَّکَ تَرَاہُ -[6]

ترجمه :- تۀ داسې د الله تعالٰی عبادت کوه لکه تۀ چې الله تعالٰی ته ګورې.

حضرت غوث الا عظم رحمة الله علیه په "سرالاسرار" کښې فرمائیلي دي چې کله انسان د بشري صفاتو لباس په ځاے د الٰهي صفاتي او عنایاتي لباس واغوندي نو دې د ولایت لویه فائده او غوره نتیجه محسوسوي. د تصوف دپاره دا عبادات، عقائد، معاشرت او معاملات ټولو کښې د اسلام یعني د شریعت کردار بنیادي او ضروري عمل دے. د دې وجې چې د قرآن مجید مختلف تفسیرونه د مثال په توګه جلالین، روح البیان، روح المعاني او تفسیر مظهري کښې د زړۀ پاک والي او د نفس صفائي فرض ګرځولي شوي دي ولې چې دا د الله تعالٰی د معرفت یو ډېره لویه او اهمه ذریعه ده. [7]

تصوف یعني د طریقت په ذریعه غیبي ایمان د شاهدۍ مضبوط یعني یقیني ایمان درجې ته رسول وي. طریقت په اصل کښې د ایمان کامله مظبوطیا ده او مقصد ئې په فقهي احکامو ادا کولو کښې ښکاره اساني پېدا کول وي. ددې په نتیجه کښې د نفس اماره (شېطاني خوهشات) پېدا شوي رکاوټونه او مشکلات لرې کېږي. څنګه چې د صوفیاؤ لاره په حقیقت کښې د شرعي علومو اخلاص سره خادمي ده چې د طریقت په جامه کښې ئې انجام ته رسوي.

تصوف چې کله د یو انسان په زړهٔ کښې ځائے شي نو د ژوند حال ئې بدل شي. معاشرتي ژوند کښې ئې په مجموعي توګه بدل شي یعني خبرې اترې، ناسته پاسته او د ژوند نور ټول کړهٔ وړهٔ ئې د شریعت مطابق شي. ډاکټر مهجور هم یو با عمله صوفي وهٔ او هغه د روښاني تصوف رنګ د دوي په شاعرۍ کښې زیات غالب وهٔ. دوي د سید محمد اسماعیل بابا نه په چشتیه سلسله کښې بېعت کړے وهٔ او په شاعرۍ کښې ئې د تصوف هر اړخ خیز کلام بیان شوے دے. د دوي په شاعرۍ کښې د انسانیت احترام او د حقیقي ذات عرفان او د تصوف نور ګڼ مضامین ملاوېږي.

د روښاني ادب یا روښاني تصوف په حواله که مونږ د ډاکټر پرویز مهجور خبره کوو نو هغه د روښاني ادب په حواله د معتبر او مستند حېثیت څښتن څېړنکار او نقاد دے. د ارزاني خویشکي د کلیاتو مدون دے او د پي. ایچ. ډي ډګري ئې هم پرې اخستې ده. د مرزا خان انصاري، علي محمد مخلص او د واصل روښاني دیوانونه ئې ترتیب او تدوین کړي دي. په "روښاني تصوف" ئې ځان له اهم کتاب لیکلے دے. د دې نه علاوه ئې ګڼ شمېر مقالې په مختلفو مجلو او رسالو کښې چاپ دي. د روښانیانو په اړه ګڼو ملکي سیمینارونو کښې ئې هم مقالې وړاندې کړي دي. په روښاني ادب او تصوف کښې ځانګړې اختصاص لري او پښتو ادب کښې د مستند روښان شناس په توګه پېژندلے شي.

ډاکټر پرویز مهجور د روښانیانو باره کښې صرف د علمي پوهې پورې محدود نهٔ دے. هغه په فکري توګه هم د روښانیانو نه متاثره دے او د روښاني تصوف داعي دے. صرف د ګفتار تر حده نه په عملي طور هم صوفي دے او د روښاني تصوف اثرات ئې په فکري توګه شاعرۍ کښې ښکاره دي. د هغهٔ په شاعرۍ کښې ګڼ اړخیز موضوعاتو سره سره د تصوف رنګ هم غالب دے. او بیا په خصوصیت د روښاني تصوف کړهٔ وړهٔ ډېر لري. هغه د فکري الوت او مختلف اړخونو اعتراف پخپله کوي.

د مهجور د خيال مهار دے چا نيولے
هر طرفته روانېږي څۀ به کېږي[8]

د هغوي په کلام کښې رومانيت، قوم پرستي، ترقي پسندي، اخلاقي او نور قسمه شاعرۍ سره سره د تصوف رنګونه او بيا خصوصاً د روښاني تصوف او وحدت الوجود نمونې مخې ته راځي.

ما خو هر ښکلے يو ګڼلے دے
ما په تشبيه کښې راز موندلے دے

خپلې مخې له پخپله په مخ راغلم
کۀ هر څو ستا د ګذر په تماشه ووم[9]

دا شعر ئې هم د وحدت الوجود نمائندګي کوي.

ستا د زلفو هر يو خيال چې خدائے ماښام کړو
يو وحدت چې موندلے په کثرت کښې[10]

په روښاني تصوف کښې د قربت مقام هغه حالت ته وئيلے شي چې په دې کښې سالک ته يو ځانګړې مقام حاصلېږي او داسې کېفيت سره مخ شي چې بې د ځان او له معبود بل څۀ نۀ وينې.[11]

په دې مقام کښې هر اواز د حق اواز ګڼې او تسبيحات ورته ښکاري. دغه مقام ته د مهجور په شاعرۍ کښې داسې اشاره شوې ده.

چې حلال راباندې ستا د مخ ديدن شو
خدائے حرام راباندې خوب کړو په قربت کښې[12]

بل ځائے هم دغه معبود يادوي چې هر طرف ته ليدے شي.

د ائينو په دشت کښې ورک رانه طرف دے
څومره ډېر دي ستا د سترګو طرفونه[13]

قربت د روښاني تصوف په مقامونو کښې دے چې د مهجور د شاعرۍ برخه هم ده. د روښاني تصوف شپږم مقام وصلت دے. په دې کښې به سالک د مرګ نه وړاندې ځان په مرګ حسابوي. اوربدل، ليدل او کتل به ئې د حق په رضا وي.[14]

دغې مقام ته مهجور صبب داسې اشاره کوي.

چې موندلي ئې ګنجونه د وصلت دي
دشته! ما هغه نادانه پورې بوځه[15]

په وصلت کښې د سالک خپل صفتونه ورک شي، ليدل، کتل، اوريدل او تلل راتلل ئې د حق په ذات وي بې له خدايه بل چا ته نظر نۀ کوي خو بيا ئې هم خپله هستي وي.[16]

سالک د يقين په رڼا يوه هستي ويني. د دې نه علاوه خفي ذکر د روښاني تصوف خاصه ده او ډېر اهميت لري. د دې اهتمام د حقيقت د مقام نه شروع کېږي. او په دې ذکر سره سالک د ګمان نه په يقين داخلېږي او د خفي شرک نه خلاصې مومي.[17]

د مهجور په شاعرۍ کښې ئې مثال دا دے.

هغه زما د زړۀ خلوت کښې چرته پټ
په جلوت کښې سرعام راته راياد شي[18]

د تصوف د روښاني نظرياتو او رجحاناتو څرګندونه نورو شاعرانو هم کړې ده خو په دې ميدان کښې د روښاني مسلک د هغه وخت شاعرانو د دې مخصوص تصوفي فلسفې ډېر په غوره انداز ستائينه کړې ده. او هغوي د دغې فلسفې تر ډېره حده خپلې نظرياتي هڅې کړي دي. خو بيا هم مونږ ته ډېر شدت سره د روښاني مسلک د شاعرۍ احساس کېږي. خو بيا په تېره تېره د روښاني تصوفي شاعرۍ دغه اثراتو ته ډاکټر مهجور په خپله شاعرۍ کښې خپل مستقل ځاے او حېثيت ورکړې دے.

خړ لباس کښې مې خزانه خوښ ئې
ستا د فقر نښانې ډېرې دي[19]

د ډاکټر مهجور په دې شعر کښې د يار مخ نه مراد د حق د وصال او د ديدن په مخصوص مقام دے. د دې وجې حقيقي ژوند که په هر څومره حجابونو او پردو کښې پټ پروت وي خو د نور عکس ئې ضرور ښکاره کېږي. دوي په خپله شاعرۍ کښې د حسن جلوې په وينبه او خوب کښې ويني او د دغې ننداري کېفيت په الهامي او شعوري نظر سره بيانوي. د دې وجې چې کله طلب خالص شي او مقصد هم پاک شي نو بيا د خوشو لارو سفر هسې سراب نۀ وي بلکې د حقيقت موندلو او د منزل په لور د کاميابۍ يوه اسانه نخښه معلومېږي.

تورې زلفې دې له مخه لر کړه
توره شپه چې په اذان پوره شي[20]

د دوي په دې شعر کښې تورې زلفې تصوفي اصطلاح ده چې د دې نه حجاب او پرده مراد دے۔ او چې کله زلفې له مخه لرې شي نو بيا د حقيقي جمال ننداره کېږي څنګه چې توره شپه د سحر په راتلو روښانه کېږي۔ دغه شان د مخ نه مراد اصل حقيقت دے۔ زلفې چې د حجاب په مانا دي او يو صوفي او سالک د رياضت، زهد او د خاص عبادت په محنت د حق د مخ نه د حقيت موندلو پرده پورته کوي۔ هغه کوم مخ چې د جمال د تجلي اعلىٰ اصلاحي نوم دے۔ د حق د جمال تجلي هم د زلفو په حجابونو کښې د رازونو سره پټ وي۔ دغه حجابونهد حق ذات ښائسته او نوراني صفتونه دي۔

ستا په مخ باندې خېرت خبرې اوکړې
ستا په ځاے د چا صورت خبرې اوکړې
يو صحرا مې بس د سترګو په راز پوې ده
هر سراب د حقيقت خبرې وکړې[21]

د ډاکټر مهجور په دې شعر کښې د مخ نه مراد حق ذات دے او کله چې د حق ذات وصال يو انسان ته نصيب شي نو دغه حالاتو کښې د قلبي وارداتو يو عجيبه خېرتي کېفيت وي۔ په داسې وجداني کېفيت کښې بې د حقيقي ذات نه بل هېڅ څوک په نظر نۀ راځي او نۀ د دغه حقيقي ذات بل مثال شته ځکه خو په هر صورت کښې د دغه يو حقيقي ذات نمود ښکاري۔ ورپسې دوېم شعر کښې ئې د صحرا نه مراد د تنهائۍ دے، او دغسې د ګوشه نشينۍ او د حق د فکر روحاني حالت ترې هم څرګند دے۔ د دنيا د شور او کاروبار نه لرې د خپل حقيقي ذات په فکر او تلاش کښې په اخلاص سره بوختېدل دي۔ ځکه خو په دغه لاره کښې سترګې د حقيقت په صحيح رازونو ښۀ پوهېږي۔ دوي په خپله شاعرۍ کښې د روښاني تصوف سرابونه يعني رازونه په حقيقت کښې څرګند کړي دي۔

څومره نُور ۀ ستا د سترګو، ښائي وه ستا د مخ
په هر بام ۀ نمر ختلے، روښنائي وه ستا د مخ
دا هر چا به پېژندلے څۀ عجب ۀ ستا شناخت
زۀ واقف له هر مقام وم اشنايي وه ستا د مخ
چې ئې راز د مينې وموندو مهجوره!
هغه خلقو لېونيو باندې شمېر کړو[22]

کله چې د طریقت په لاره کښې یو سالک د مینې راز اومومي او د حقیقت مینې د وصال په خوږو کښې د حده زیات ورک شي نو بیا د دغه کېفیت او سرور بل هېڅ نعم البدل نۀ وي. داسې حالت کښې سالک د دنیاوي څیزونو د لذتونو او خوندونو هېڅ پرواه نۀ کوي او د دوي په خیال د دې فاني څیزونو حقیقت او حېثیت هېڅ نۀ وي. د دې وجې چې کله د دې مجازي دنیا مخلوق دغې د بې نیازۍ حالت ته غور سره ګوري نو د اصل حقیقت نه د ناشنایۍ په وجه د عام اولس په نظر کښې هم بې خبره او لیونے ښکاره شي.

دا ستا مینه مې اسمان دے هم معراج دے
دا اسمان مې هم مکان هم پروازونه

دا ستا مینه مې سفر هم قافله ده
دا ستا مخ هم بیابان هم سرابونه

چې ئې زلفې پرانستلې
مسئله مې جوړې حل شوه

په تیرو مې زړۀ خوښېږي
څوک سپوږمۍ مې د ګوګل شوه [23]

د ډاکټر مهجور د شاعرۍ زیاته برخه عشق الٰهی سره تړون لري ځکه خو ئې په کلام کښې قدرتي او فطري سادګي معلومېږي. شعر کښې ئې د روښاني تصوف نازکې او نرمې جذبې څرګندېږي . په کلام کښې ئې د حقیقي مینې روح په یو ښائسته اندازکښې لکه د نمر روښانه ښکاري. د حقیقي عشق مزاج د هر انسان جدا جدا وي او د دوي په کلام کښې دغه د اخلاص روښاني تصوفي رنګ زیات د صداقت او همدردۍ نه ډک دے. د مهجور په شاعرۍ کښې د قبض و بسط اصطلاحات هم ملاوېږي.

یوه عجبه پردېسي ده
دلته ځان هم پېژندل ګران دي

له هره رخه راته ښکاري
زما زړۀ د آئینو ډک دے [24]

په تصوف کښې بل حالت د بسط دے چې سالک پکښې هر څۀویني او د پټو رازونو هم خبرېږي.

دا د ځان که د بهر په تماشه ؤم
دا د زړهٔ که د دلبر په تماشه ؤم
چې نه شرق او نه غرب لرم په زړهٔ کښې
بې اسمانه د کوم نمر په تماشه ؤم
خپلې مخې له پخپله په مخ راغلم
که هر څو ستا د ګذر په تماشه ؤم
چې کاتهٔ مې د خپل یارؤته مهجوره!
هم د بت هم د بت ګر په تماشه ؤم[25]

د ډاکټر پروېز مهجور په شاعرۍ کښې د تصوف رنګونه ښکاره دي. د هغوي د تصوف اړخ زيات زړهٔ راښکونکے په دې هم دے چې هغه پخپله د دې مېدان په عملي طور پالونکے هم دے. د پیر د اهمیت نه خبر دے او د پیر لاس نیوه ئې هم کړې ده. او د دې خبرې غالب امکان دے چې تصوف ته د روښان تصوف د څېړنې، مطالعې او پوهې په وجه راغلے دے. دغه وجه ده چې د تصوف په اړه د هغوي څېړنې او علم ډېرزيات اهمیت لري. ځکه چې د عمل، کردار، ښائسته اخلاق او تصوف سره د هغوي ذاتي تړون د هغهٔ مقام نور مستند او باوري کوي. ځکه چې هغه صرف د ګفتار غازي نهٔ دے بلکې د کردار په حواله هم ځانکړې مقام لري.

د روښاني تصوف او ادب په اړه د هغهٔ په شاعرۍ کښې دغه اثرات او کېفیات هم په نظر راځي. په جدید دور کښې مونږ د بل شاعر په کلام کښې دغسې د روښاني تصوف کېفیات او اظهار نهٔ وینو. د روښاني ادب او روښانیانو په حقله ډېرو څېړنکارانو او عالمانو د خپل علم څرګندونه کړې او ډېر تیارهٔ اړخونه ئې ښکاره کړي دي خو کار ښکاره کولو او کار کولو کښې فرق وي. مهجور صېب په ذهني او فکري توګه هم د روښانیت سره اشنا او تړلے دے او دغه اثر د هغهٔ په شاعرۍ کښې هم ښکاره دے.

☆☆☆

## REFERENCES


1. *Alquran, alfatheha, ayath, 5, 6.*
2. *Musthafaye, muhammad ajmal khan, allama, shekh thareqath, thasawaf ka mukammal encyclopedia, hare pur, khan qah nqashbandia cheshthya owasia chawhar shareef, hazara, khyber pukhtunkhwa, 2017, safha. 82.*
3. *Hum daga kithab, makh. 213.*
4. *Mahjoor, perez, doctor, professor, rukhani thasawaf, pekhawar, pakhto academy pekhawar university, 2016, makh 46.*
5. *Cheshthe, yousaf saleem, professor, tharekh thassawaf, lahore, darulkithab urdu bazar, safha 21.*
6. *Thasawaf ka mukammal encyclopedia, safha 245.*
7. *Hum daga kithab, makh 256.*
8. *Kheshgi, pervez, mahjoor, da pervez mahjoor shayre (na chapa), mahmoola: Anis mahjoor, neeta na lare, makh 13.*
9. *Hum daga kitab, makh 27.*
10. *Hum daga kitab, makh 18.*
11. *Nagar, fazal wali, da bayazid rokhan irfani, adabi khawanzi, Afghanistan, naagar khprawandia tolana, 239 lam, makh 52*
12. *Da pervez mahjoor, shayre (na chapa), makh 38.*
13. *Hum daga kitab, makh 33.*
14. *Masood, saifur rahman, peer rokhan av rokhani enqilab, pekhawar, university book ajency, 1998, makh 127.*
15. *Da pervez mahjoor, shayre (na chapa), makh18.*
16. *Qasmi, abdul qadoos, muqadma khair ul bayan, pekhawar, pakhtho akadami pekhawar University, 1947, makh 197.*
17. *Kheshgi, pervez mahjoor, doctor, da arzani kheshgi kulyath, pakhtho akadami pekhawar university, 2005, makh 131.*
18. *Da pervez mahjoor, shayre (na chapa), makh22.*
19. *Hum daga kitab, makh 45.*
20. *Hum daga kitab, makh 64.*
21. *Hum daga kitab, makh 56.*
22. *Hum daga kitab, makh 47.*
23. *Hum daga kitab, makh 71.*
24. *Hum daga kitab, makh 74.*
25. *Hum daga kitab, makh 72.*